SHARIAT weekly
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
شپږم کال ۲۸ مه ګڼه پرله پسې(٤٠٨)یکشنبه د۱٤۲۲هـ ق کال د صفر المظفر(٥)
د ۱۳۸۰هـ ش کال د غویی دمیاشتي(۹)د۲۰۰۱ میلادي کال د اپریل (۲۹)

دستګاه تجزیه میخانیکي ګاز فعال وبه بهره برداري سپرده شد
این دستګاه در ۲۴ ساعت سه ملیون مترمکعب ګاز را تصفیه مینماید

شبرغان باختر دستګاه تجزیه میخانیکي ګاز نقطه سوم معدن ګاز ساحه یتیم طاق شبرغان فعال وطي محفلي امروز افتتاح ګردید دراجتماع که بدین مناسبت درشهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان ترتیب یافته بود محترم قاري احمد الله معین وزارت معادن وصنایع محترم ملامحب الله اخند زاده والي ولایت جوزجان محترم ملانورالباقي رئیس تصدي افغان ګاز انجنیران وکارګران تصدي متذکره اشتراک نموده بودند محترم معین وزارت معادن وصنایع ومحترم والي ولایت جوزجان طی صحبت هاي مختصر از تلاش هاي صادقانه وکارهیګر انجنیران وکار ګران ریاست افغان ګازابراز امتنان نمودند محترم ملا نورالباقي رئیس تصدي افغان ګاز طی مصاحبه به خبر نګار آژانس اطلاعاتي باختر ګفت :دستګاه تجزیه میخانیکي ګاز توسط انجنیران وکارکنان تصدي افغان ګاز به شکل اساسي فعال وبراي اولین بار به بهره برداري سپرده شد با استفاده از دستګاه متذکره سه ملیون مترمکعب ګاز در ۲٤ ساعت تصفیه وانتقال میګردد ، درمعدن ګاز ساحه یتیم طاق شبرغان که در هجده کیلومتري شرق شهر شبرغان قرار دارد ۲۸ حلقه چاه تصفیوي واکتشافي وچهارحلقه چاه ص ٤

الهی فرمان
عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! . همدا (عدل) دیر نږدي دی تقوا(پرهیزګاري) ته . (سورة المائدة)

توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بګذارید.

په تخارکي دروس نوکره دلویو لوی بریدیه شاوتمبول شو
ددښمن نوري پنځلس پوستي هم داسلامي اردوله خوا فتح شوي
مسعود ددې برید لپاره لاپخوا ډیري وسلې او مهمات ترلاسه کړي و

کابل باختر
دتخارولایت دلته بند دفرخار دتنګی او دهزارباغ ولسوالي او داندراب په استقامتونو دافغانستان داسلامي امارت دمخالفینو لپخوا پلان شوي بو پراخ تعرض یو ځل بیاهم داسلامي اردو دمجاهدینوله خوا ناکام شو او دمتقابل تعرض په نتیجه کي دښمن خپلي یو شمیر پوستي له لاسه ورکړیدي دباختر داطلاعاتي آژانس خبریال دیو نظامي مسول له خولي خبرراکړ دافغانستان : خلکو دښمنانو اوڅلور شهار په پنځه بجو دتخار ولایت دفرخار په تنګي لته بنداو دهزارباغ په ولسوالي کې او دبغلان ولایت داندراب په ولسوالي کې داسلامي اردو د مخالفینو مجاهدینو په سنګرونو باندې په یوه ناکام تعرض لاس پوري کړ چې په نتیجه کوبي نه یواز هغه سیمي چې دخپل تعرض لومړیو شیبو کي نیولي وي له لاسه ورکړي بلکي دهغوي یو زیات شمیر پوستي داسلامي امارت ٤ مخ

دکرني وزیر دشمال زون د تنظمیه ریاست له مرستیال سره وکتل

کابل باختر
دکرني او مالداري وزیر محترم ملا عبداللطیف منصور دکرني او مالداري دچارو دپوهنه والي په اړوند دشمال زون دتنظمیه ریاست له مرستیال سره دمزار شریف په ښارکي وکتل دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغي کتني په بهیر کي دکرني او مالداري محترم وزیر دشمال زون تنظمیه ریاست له مرستیال محترم ملا عبدالجبار صدیقي سره دکرني او مالداري د چارو او خدمتونو دپوهنه والي او دهیواد دشمال په سیمو کي دملخانو دیر غل په وړاندي دمجادلي دکمپاین دسختوالي په اړوند خبري وکړي او په بیلابیلو برخو کي لازم تصمیمونه ونیول شول .دبغلان سمنګان او دکندز دولایتونو په بیلابیلو سیمو کي دغو ولایتونو دکرني او مالداري دادارو او خلکو له خوا دزیان رسوونکو ملخانو پرخلاف مجادله پیل شوي او دکرني او مالداري وزارت ددغي خطرناکي خزندي دپیښي له منځه وړلو په مقصد دهیواد دنورو ولایتونو دخلکو او دغه راز دبهرنیو موسسو دمرستو او همکاري غوښتنه کړیده .

دمیدان - وردګ ولایت دچک ولسوالي دتکړه ادیبانو ،شاعرانو او فرهنګیانو په نوښت
دمنی ګل پسرلني مشاعره جوړه شوه

وردګ شریعت : دمیدان - وردګ ولایت دچک ولسوالي دشهید عبدالله عزام په دارالایتام کي دروان ۱٤۲۲ هجري سپوږمیزکال دصفر المظفر دمیاشتي په لومړي نیټه دیو شمیر تکړه ادیبانو ، شاعرانو او فرهنګیانو په نوښت او دسیمي دسلګو نو تنو قومي مشرانو ، سپین ږیرو مخورو و طالب العلمانو دپوهنتون دمحصلانو او ګڼ شمیر امارتي چاروا کو په ګډون ٤ مخ

روسیه براي عبوراتباع امریکایي :
ازخاک خویش مقرارت جدیدوضع کرده است

کشور روسیه براي عبور اتباع امریکایي از خاک آن کشورمقررات جدیدي وضع کرده است وزارت خارجه روسیه دیروز اعلام کرد این قوانین ازاواسط ماه آینده عملي میباشد اتباع ص ٤

ایالات متحده امریکا به لزوم حمایت از تایوان تاکید کرد

واشنګټن
دکچیني معاون رئیس جمهور ایالات متحده امریکا امروز به لزوم حمایت از تایوان درمقابل چین تاکید کرد . به ګزارش منابع خبري بین المللي دکچیني زماني این موضوع را مطرح کرد که اظهارات اخیر جورج دبلیو بوش رئیس جمهورایالات متحده امریکا دراین مورد با عکس العمل شدید مواجه شده است طبق یک خبر دیګروزارت امورخارجه چین امروز از حکومت امریکا خواست از صدورویزه براي چاي شوییان رئیس جمهور تایوان به منظور توقف در امریکا درادامه سفرش به امریکا لاتین خودداري کند

دملګرومللتودمهاجرینو دعالي کمشنري رئیس نیکنمارا :
په افغانستان کي مهاجرو دلاسه لس زره خیمو ته اړه لري

له بهرنیو منابعو څخه دملګرو ملتونو دعالي کمشنري دمهاجرینو (UNHCR) د ملګرو ملتونو ... شوي خلک اوس په سختو او غا روکي ژوند کوي دوي سیمه لاسه لس زره خیمو ته عاجل ضرورت لري هغه وایي مالي کومکونو ته هم ضرورت دی دملګرو ملتو مختلفو موسسو دافغانستان لپاره دده نیمه سوو ملیونو ډالر غوښتنه کړي او تراوسه ٤ مخ

اشغالګران صهیونست به تخریب زمین هاي زراعتي فلسطیني ها ادامه میدهد

منابع خبر جهان
برخورد هاي شدید میان مجاهدین فلسطیني واشغالګران صهیونست امروز درفلسطین اشغالي ادامه یافت درجریان برخورد که میان طرفین در نوارغزه رخ داد چهارتن از مجاهدین فلسطین جراحت برداشته اند که وضع صحي دو تن آن وخیم خواند شده است این در حالي است که اشغالګران صهیونست به تخریب زمینهاي زراعتي فلسطیني ها ادامه داده اند . به این ترتیب بسوالند ازمقاومت مجاهدین در برابر اشغالګران بکاهد طبق یک خبر دیګر اداره خودمختار فلسطین دیروز تشکیل جلسه ص ٤

همین حالا بشمول انستیتوت طب حدود ۶۰۰۰ محصل در پوهنتون کابل مصروف تحصیل مي باشند

محترم پوهیالي قاري محمد اجمل « احمدزي» متصدي امور محصلان پوهنتون کابل

این امر خیلی قابل ملاحظه است که دروازه پوهنتون به رخ همه ګان بازاست

محترم میرویس «ناصري» محصل سال دوم پوهنحي زمین شناسي پوهنتون کابل

کابل شریعت :
جوشمع ازپی علم باید ګداخت که بي علم نتوان خدا راشناخت
بدون شک که روشني چراغ سعادت فقط مستلزم علم است ودانشوران عاقل وخردمندمیتواند با اندوختن علم حقیقي چراغ سعادت همیشګي را دراشیانه اش جاویدان روشن داشته باشد.
بلي خواننده عزیز: اینک خبرنګارما به سلسله تهیه ګزارشات خویش ګزارشي رادر رابطه به وضعیت محصلین وچګونګي جریان دروس در پوهنتون کابل از آنجا ترتیب داده است رجا منديم داشته هاي این ګزارش بتواند لحظات چند شمارا مصروف نګه بدارد . عقربه هاي ساعت ۷:٥٦دقیقه بامداد را نشان میداد . جاده عمومي پوهنتون کابل را ص ٤

دنړي لومړني سیلاني امریکایي ملیونرخارجي فضا ته روان شوبدي

له بهرنیو منابعو څخه :
خارجي فضا ته دنړي لومړني سیلاني یا تورست دروسي راکټ په ذریعه دشلو ملیونو ډالرو په ورکولو سره دخارجي فضا بین المللي سټیشن ته روان دي دسیوز په نامه په دې بیړي کي امریکایي ملیونرډینس تیټو او دوه روسي کازمنکي پلوټان دي چي نن دقزاقستان دخارجي فضایي اډي څخه فضا ته روان شوي . تاکل شویده دغه بیړي دوشنبه له بین المللي فضایي سټیشن سره وصل شي مګر امکان لري چي خارجي فضا ته دامریکایي تلونکي راتلونکي پورتوري بیړي ص ٤

دساینس نړۍ
ص۳

کوفي عنان خواستار مجازات قاتلین کارمندان صلیب سرخ در کانګو ګردید

سازمان ملل متحد قتل شش تن از کارمندان صلیب سرخ را درکشور افریقایي کانګو موردانتقاد شدید قرار داده است کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد خواستار تعقیب ومجازات نمودن قاتلین ګردیدکه هنوز ناشناخته مانده اند سرمنشي سازمان ملل متحد تاکید ورزیدطرفهاي درګیر در جنګ کانګو باید امنیت کارمندان سازمان ملل متحد را که مصروف خدمت بشردوستانه به مردم مجروح آن کشور اند تضمین نمایند . به روز پنجشنبه شش تن از کارمندان صلیب سرخ از جمله یک خانم سویسي چهار تبعه کانګوویک تبعه کولمبیا در شمال شرق انکشور به قتل رسیدند .

سرمقاله
دلوی خدای (ج) په نامه

اوس خو به دکوکنارو بندېزمني ؟

داځوورځس کیږي چي دملګرو ملتو ترانتظام لاندي یو پنځلس کسیزپلاوي په افغانستان کي دکوکنارو دکرکېلې په پلټنه بوخت دي ،که څه هم نوموړي دوه وړاندي لا په دي څارنه شوي او دنړي مطبوعاتو په پرله پسې توګه داخبر نه خپاره کړي چي نورنو افغانستان له مخدراتو نه یو پاک هیواد دي ،مګردامریکي په شمول نوروهیواد ونو لاتراوسه هم په دي موضوع کي شک شبهه درلوده او دادي اوس بیا یو ځل دخپلو استازو په ګډون ٢ مخ

رقم بیجاشدګان خشکسالي در داخل کشور به یکصد هزار نفر رسیده است
باګذشت هر روز بر تعداد بیجاشدګان اضافه میګردد
جامعه بین المللي نباید بیشتر از این در زمینه سکوت اختیار نماید

کابل شریعت :
همین حالا رقم مجموعي بیجاشدګان خشکسالي در داخل کشور به یکصد هزار نفر میرسد و باګذشت هر روز برشمار آن اضافه میګردد .
خبر نګار مادر زمینه ګزارش میدهد : امروز بشمول حوزه کابل در ولایات هرات ، بغلان وکندز حدودهژده هزار خانواده بیجاشده از بابت خشکسالي وقحطي در وضعیت بداقتصادي دارند که ګاهي سردي تهدید شان میکند وګاهي ګرمي .محترم مولوي عبدالرقیب وزیر شهداء ومهاجرین پرده از

اعلانات
ص٤

افغانان دثور کودتا چیانو او دجبل السراج ائتلا فیانو ته په یوه سترګه ګوري

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات : ۶۲۸۵۹
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

بوه لوېه څارونکې د لمراولیږ له ترڅ په اړونده موضوع کې داد ګیرنه ترلاسه کړې دا چې راغلې پلاوې تراوسه خپل تحقیقات نه دي بشپړ کړي او نه یې څېړن خپور کړي خو «کریسچن ساینس مانیټر» او «ابزرور» ورځپاڼو د خپلو خبریالانو سترګولیدلي حالات په مفصله توګه نشر کړي او ویلې دي چې دوې په ننګرهار کې تولې کروندې لوېشت په لوېشت وکتلې خو د کوکنارو بوټي یې هم پیدا نه کړ. سره له دې چې ځینو غرضي خوا وو ددې بندیز اصلي عامل وچکالي بللي خو دا خبره بېخي غلطه ده ځکه زیاتریز ګرانو حتي له بهرنو خبریالانو سره د مرکو په ترځ کې داڅرګنده کړې چې اصلاً همدغو وچکالي دوې د کوکنارو په کرلو مجبوروي ځکه نه شي کولاي د بري ځکې خړوبې او د غنمو یا نورو کښتو نو په پیدا وارڅان وچلوي نو په بوه وړه ټوټه ځمکه کوکنار کري او له همدې لارې د خپل ژوند اړتیا وې پوره کوي نو په دې اساس اوس نړیوال ته پکار ده چې دافغانستان د اسلامي امارت دغه بریالیتوب ومني او که رښتیاهم د مخدراتو له موذي بلا نه بشریت ژغورل غواړي په دې کال کې دې له افغانستان سره مرسته وکړي - اوس خو دوی په هیواد کې د دروېشت کلنو تپل شوو جګړو اغېزې، وچکالي او د ملګرو ملتو د بندیزونو نتایج د سرپه سترګو وینې او د کر کروندې وران و بجاړ حالت او د بزګرانو اړتیاوې هم له چا پټې نه دي نو ولې په دې بختور کار کې هغسې اغېزمن ګام نه اخلي لکه افغانانو چې واخیست؟ دا څومره د چې د بشریت د سو کالي او نېکمرغۍ مدعي هیوادونه په دغسې بوه بشري موضوع کې هم خپلې سیاسي ګټې لټوي او ځینې خاص تمایلات یې د مخدراتو په شان بوې خطرناکې معاملې په هکله هم بوه مثبت دریځ غوره کولو ته نه پریږدي حقیقت دا دي چې دافغانستان خلک لکه څنګه چې پاخه مسلمانان دي او د اسلام لپاره یې د بري قرباني ورکړي همدغسې د بوه شرعي قیادت پریکړو او غوښتنو ته هم په درنه سترګه ګوري او په کلکه یې ننګه کوي نو اوس باید نړیوال د زړه له کومې دا خبره ومني چې د اسلامي امارت د نورو پریکړو او قاطع سیاست په شان د مخدراتو کښاله هم د تل لپاره پاي ته ورسیده او نور نو افغانستان بوداسې هیواد نه دي چې له دې پلوه

اوقاطع سیاست په شان د مخدراتو کښاله هم د تل لپاره پاي ته ورسیده او نور نو افغانستان بوداسې هیواد نه دي چې له دې پلوه

بې چا ته ضرر او تکلیف ورسیږي او یا په بهر کې کوم افغان ته د مخدراتو چلوونکې په سترګه وکتل شي. نو نړیواله ټولنه هم باید په جرأت سره افغانستان له کوکنارو نه بوپاک هیواد اعلان او لازمې مرستې ور سره وکړي او هغو بوښتنو او شکونو ته چې ښایې دغه ټولنه به له مخدراتو سره په مبارزه کې څه صداقت و نه لري، مثبت ځواب ووایي. چې ښایې ووایي. دافغانستان اسلامي امارت هم په خپل وار نړیوالو ته داد ورکوي چې نور دافغانستان له اړخه په دې هکله د څه اندېښنې ځاي نه دي پاتې نو ګورو چې رښتیا هم له مخدراتو سره په نړیواله مبارزه کې څومره رښتینولي موجوده ده؟

انقلابونو خپلې سرې اوښنې جامې څنګه بدلې کړې؟

عبدالجلیل «وجدي»

کله چې په افغانستان کې صادر شوي انقلابونو ورو ورو خپلې سرې جامې بدلولې نو هغه کمونستان چې د مخه یې د خپلو ځانو لپاره قوي اډې جوړې کړې وې په ډېره مصئونه توګه له بوه انقلاب څخه را ووتل او په بل انقلاب کې یې ځاي ونیو او په دې ډول د ملېشو اصطلاح له بوه انقلاب څخه بل ته د سوغات په توګه یوړل شوه، دې اصطلاح په خپله د استاد برهان الدین رباني په وینا وو کې هم ځان ښکاره کړ.

دهیواد بو سابقه لرونکي لیکوال او ژورنالیست عبدالحمید مبارز په خپل کتاب یعنې «حقایق وتحلیل وقایع سیاسي افغانستان» کې د فرانسوي لیکوال او ژورنالستانو له خولې لیکي: کله چې جمعیت خپله بنسټ پاله نظریه پرېښوده نو یې ژبات فارسي ژبې جذب کړل او له جمعیت څخه یې د تاجیکانو بو حزب جوړ کړ.

ښاغلي مبارز په خپل دغه کتاب کې لیکي: کله چې ببرک کارمل په مسکو کې د ګورباچوف او په کابل کې د نجیب د ماتي خورلو آوازې واوریدې نو په بیړه یې ځان افغانستان ته را ورساوه چې په حزب کې د نجیب د مخالفینو رهبري په غاړه واخلي او د وکیل، مزدک او جنرال نبي عظیمي د کودتا لپاره چې د جنرال عبدالرشید دوستم ملېشې به ورسره مرسته کوي، زمینه برابره کړي، خو څرنګه چې په مسکو کې د ګناډي انایف کودتا ناکامه شوه، په کابل کې د کارمل د طرفدارانو د پښو او لاسونو پلي او عضلې هم غرندې شوې نو کارمل ددې جرات ونکړ چې په کابل کې قدرت ترلاسه کړي. دا یې

غوره وګڼله چې دده پلویان د جمعیت او شوراي نظار سره یو ځاي شي. هغه وخت چې نجیب د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخسته له خارجه وزیر وکیل او څلور کسه جنرالان چاریکارو ته ورغلل او له مسعود څخه یې وغوښتل، چې کابل ته ورسره لاړ شي او قدرت ترلاسه کړي.

کله چې د نسکور شوي حکومت ځینې واکمن د بیو امکاناتو سره مسعود ته ورغلل نو ده دافغانستان د جهاد قوماندانانو ته شا وروګرځوله او د هغوي فیصلې یې هم شا ته واچولې. په همدغه وخت کې د سیاف بو قوماندان محمدانور تولواک له مسعود سره په بې سیم کې خبرې کوي او ورته وايي چې اوس څه کوي؟ مسعود قوماندان انور تولواک ته لنډ ځواب ورکوي چې که له تا سره څلور سوه ټانکونه او بوه منظمه قوا واي نو دا رانه وابه چې تا به څه کړي واي؟ داهغه ځاي دي چې د قدرت نیشې د مسعود سترګې پټې کړې وې اوس یې نه د جهادي قوماندانانو ګډې پریکړې اونه یې د ملګرو ملتو پلان ته کتل مفت لاس ته ورغلي څلور سوه ټانکونه او بوه منظمه قوا د ده لپاره هرڅه و.

په دې توګه د ډاکټر نجیب د حکومت له پاي ته رسېدو سره سم د راسب نو او چپیانو د ادغامولو یا ائتلافونو سره د مخښو سیالیو مسابقه جوړه شوه په نتیجه کې بو ائتلاف په دې مسابقه کې ځان د مخه کړ او په کابل کې یې په قدرت منګولي ورتېنګې کړي. ورسره

دائتلاف هر اړخ په خپلو چاپي خپرونو کې ادعا وکړه چې دوي ګواکې د فاشیستانو او شئونیستانو اډې ونړولې. کابل راډیو او تلویزیون د شوراي نظار د کارکوونکو لاسته ورغلل هغوي هم په فاشیزم سختې حملې وکړې.

د ګرجنرال عبدالرؤف بېګي د شمالي صفحاتو د عمومي نظامي قوماندانۍ رئیس ارکان د ملي اسلامي جنبش د بیرغ د رپولو په مراسمو کې د خپلې وینا په ترڅ کې وویل:

بیرق جنبش ملي اسلامي نما دو ممثل وحدت ملیتهاي محروم افغانستان در راه نیل به حقوق مشروع سیاسي، اقتصادي، اجتماعي و فرهنګي میباشد که به یاري خداوند بزرګ بعد از دونیم سده اخیر طومار حاکمیت ګروه قبیله سالار شئونیستـ را فرو پاشیده ایم.

د دغه وینا د جنبش د جریدې «نداي اسلام» دلومړي ګڼې په اووم مخ کې راغلې ده، چې د ۱۳۷۲ لمریز کال د حمل د میاشتې په ۲۵ نیټه خپره شوې ده.

همدغسې بو مطلب د جنبش په بوه بله جریده «ارمغان» کې، چې د ۱۳۷۲ د سرطان په ۹ نیټه کې نوي تاسیس شوې او د دریاب په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده لیکل شوي دي. دې جریدې ته د قارياب والي عبدالرحمن رحماني په خپل پیغام کې لیکلي دي، چې:

«جنبش چون موج توفانزا کاخ استبداد واستکبار را از بنیاد بر افګند و طومار سیاه قبیله سالاري

فاشیست هاي زمان را درهم پیچید».

د دغو مطالبو لوستل سړي ته له نوي سره د فاشیزم او شئونیزم د تعریفونو په باره کې پوښتنې پیداکوي تاسې باور وکړئ چې دهغو په لوستلو سره زه په خپله حیران پاتې شوم او نه پوهېدم چې ددې مبهمو جملو له مخې څوک فاشیستان او شئونیستان وبولم او څوک نه؟

د دې مجلې په بوه لومړۍ برخه کې هلته چې په تعصباتو باندې د تولنیزې ساپوهنې په رڼا کې بحث شوي دي. بو مهم ټکي لیکل شوي دي چې دلته یې یادونه بیا په کار ده او هغه دا دي چې تاپه یې یا کلیشه یي نظریات

(stereotypes)

د سترو اشتباهاتو او غلطو قضاوتونو سبب ګرځي مثلاً د پښتنو مخالفینو په تېره ایراني او کمونیستي منابعو بوه نظریه قایمه کړې ده چې که په ګوند یا حکومت کې ظاهراً پښتانه ډېر شمېرل شوي وي نو هغه ګوند یا حکومت فاشیستي دي نو بیا هر پښتون فاشیست دي.

په پورتنیو مطالبو کې د «دونیم سده اخیر» عبارت دافغانستان تېرو دوه نیمو پېړیو ته صریحه اشاره ده، په دې تاریخي دوره کې پښتنو دافغانستان د نورو ورونو قومونو په همکاري افغانستان له بوه ملت دوله استعماري ښکېلاک څخه را ویست او د مرحوم غبار په قول یې په همدغه وخت کې دوه نیم سوه کاله تجزیه پاي ته ورسوله.

زمونږ باران خو به ګوندي دي خبري نه وي خواشیني کړې، چې هغه وخت ولې افغانانو د اریانا تاریخي هیواد د پان تور انیستانو، ایرانیانو او مغلوله منګولو څخه ویوست.

که په فاریاب کې د اړو دوړ د وختونو د والي عبدالرحمن رحماني د پیغام د «قبیله سالاري فاشیست هاي زمان» ټکي په نظر کې ونیسو نو ښایي د دوي مقصد د محمدزیو قبیله او د شهید محمد نادر شاه کورنۍ په خاصه توګه شهید داؤدخان وي. زما په یاد دي کله چې د داؤدخان په مشرتابه سپینه کودتا وشوه او د هغه مرحوم عکس په اخبارونو کې چاپ شو یو چا چې د ده عکس ته و کتل نو ژړېي تا په ورباندې ولګوله چې «سترګې یې د فاشیست دي» خو هو دکتور محمد حسن شرق او هم جنرال عظیمي په خپلو کتابونو کې په هغه باندې دغه لګول شوي بې پاکه کړي دي.

مرحوم داؤدخان په دې تومتي شوي ژ چې هغه ګویا پښتون قوم ته پښتو ژبې ته خاصه توجه لرله. خو حقیقت دا دی چې استاد رباني تر ده زیاتې وینا وې په پښتو ژبه کې ورکړې دي. د داؤدخان ترټولو سخت مخالفین د ده له استبدادي خصلت څخه سرټکوي **خو په دې اعتراف کوي چې دي د تقوې خاوند ؤ او له وطن سره یې د ځینو لیکوالو په قول «لیونۍ مینه لرله»**

دمخدراتو پرخلاف نړیوال مبارزین چیرته دي؟

فاروق

دا یو څرګند حقیقت دي چې نن سبا ښکلاکي او نړیوال ستر ځواکونه د خپلو خاصو موخو ترلاسه کولو په لارکې له هر ډول شیطاني او سیاسي دوکمارۍ نه کار اخلي چې په دې ترڅ کې د هغوي پر مختللي تبلیغاتي وسایل خورا اغېزناک رول لري او کولاي شي چې کومه وړه موضوع ډېره لوېه او د ګردې نړۍ پام ورته را واړوي. په افغانستان کې د کوکنارو مسأله په همدې ډول بوه موضوع ده او دا ځکه چې کوکنار له ډېري اوږدې زمانې راهیسې زمونږ په هیواد کې کرل کېدل او چا یې نوم هم نه اخیست، خو کله چې اسلامي امارت غربیانو ته د خپلو سیاسي، کلتوري او ثقافتي اهدافو په لارکې بوخنډ ښکاره شو نو دا خبره یې په دومره خطرناک ډول تبلیغ او تقریباً نړیوال یې په دې قانع کړل چې ښایي د تولې دنیا د بد مرغیو سرچینه افغانستان وي. په ګرده نړۍ کې هر افغان ته د مخدراتو بوه چلوونکي په نظر کتل کېدل او لاداچې د تول

اسلام د بدنامي کار یې ترې اخیست. له یلې خوا افغانانو هم د روسي یرغل او دوه ویشت کلنو تپل شوو جګړو، وچکالۍ او نورو طبیعي آفاتو له کبله ډېري ستونزې درلودې چې ظاهراً دوي ته هم د کوکنارو بشپړ بندیز ناشونی بریښېده، په دې توګه نو لوېدیزو او نورو نړیوالو مغرضو حلقو یې د رکه زیات د یاو اچول پیل او ډول ډول پلانونه یې جوړ کړل، کله به یې دافغانستان ګرد چاپېر د امنیتي کمربند لپاره سلامشورې کولې، کله به یې د بیولوژیکې زهرو او مکروبونو په واسطه د کوکنارو کښت له منځه وړلو پروګرام جوړاوۀ او کله څه کله څه چې هرڅل به یې په دې مبارزه کې **د ملباردونو دالره لګښت غوري هم کولې خو کله چې**

دافغانستان اسلامي امارت په خپل غوڅ دریځ، قوي ارادې او د خپل مسلمان ولس په کامله ملګرتیا په تول هیواد کې په بشپړ ډول کوکنارو کښت بند او د نړۍ خپلواکو خبریالانو او ملګرو ملتو څارونکو یې هم تأیید وکړ نو په همدغه ورځ د مخدراتو پرخلاف د نړیوالي موسسې د دفترونه چې له بزګرانو سره د مرستې پروګرامونه یې درلودل، په هیواد کې وتړل شول او په بهر کې هم هغه د ملیاردونو دالرو مرستو او لګښتونو خبرې یاد بورې، نه له امارت سره چا څه مرسته وکړه او نه له بزګر سره. په دې ډول د هغو غرضي حلقو دوه مخې او ځانګړي سیاسي اهداف هرچا ته په ډاګه شول، کوم چې د مخدراتو له بدمرغۍ نه یې

د تول بشریت ژغورلو یاتې وهلې. او په دې لارکې یې د پرتمانه لګښتونو لوزونه کول خو له بده مرغه په داسې بوه حساسه موضوع کې د سیاسي سوداباز دا ور چلند د تل لپاره د هغوي د منافقت نښانه وګرځېده. که څه هم د لوي خداي فضل او احسان دي په افغانانو کې د اپینو او پوډرو عملیان زمونږ د ګاونډیانو او نورو غربي هیوادونو په نسبت د هغوي د بوې ولسوالۍ د عملیانو شمېر ته هم نه رسیږي. مګر بیا هم افغانانو د خپل همت او تاریخټوب سره سم د نور بشریت ژغورلو لپاره او د خپلي نیستي او فقر سره سره په مکمل ډول د کوکنارو کرل بند او له نړیوالو سره یې لوي احسان وکړ. زمونږ ګاونډیو او ډېرو نورو غربي او اروپایي هیوادونو به د پوډرو

د مخښو او په دې رنځ اخته کسانو درملنې لپاره په کلنې ډول سل ګونه ملیونه ډالره مصرفول خو اوس افغانانو له دې ګردو لګښتونو وژغورل او لا دا چې د هغوي د ډېرو تولنیزو ستونزو مخه یې هم ونیوله خو له بده مرغه بې انصافه سیاسي غرض لرونکو حلقاتو د افغانانو د غې تاریخي کارنامې ته هم هماغسې په سپکه وکتل لکه د کمونیستي ښامار له منځه وړلو په مهال یې چې کتلې و. افغان مؤمن ولس داځل بیا هم خپلې مادي ګټې له لاسه ورکړې او ځان یې د څه وخت لپاره فقر او نیستۍ ته کیناؤ خو د مخدراتو له موذي بلا نه یې د بشریت د نجات سره لی ترلیه دا هم نړیوالو ته په ډاګه کړه چې د مخدراتو پرخلاف نړیوال مبارزین په اصل کې څوک دي؟ څه غواړي او د بشریت د نجات لپاره څه ډول نیتونه لري؟ تر اوس دې په خپله ځواب راکړي د مخدراتو پرخلاف نړیوال مبارزین چیرته دي؟؟

متصدي صفحه : فاروق

هغه باکتریا چې دغاښونو دچنجیو وهلو مخه نیسي

څیړونکي په دې برېالي شوېدي چې له ژنتیکي لارو چارو څخه په استفادې سره یو ډول باکتریا چې دغاښونو د زیاترو ناروغیو عامل کیږي په ارزښتناک ډول بدل کړي .

د فلوریډا په پوهنتون کې دغاښونو متخصص ډاکتر هلمي په یوه رپوټ کې د دغو څیړنو دڅرګندولو په ترڅ کې وویل چې داکار کولی شو دغاښونو په علم کې یو انقلاب وبولو. دی چې دفلوریډا پوهنتون له سابقه لرونکو ماهرانو څخه شمېرل کیږي وویل دغه باکتریا کولی شي دغاښونو دچنجي خوړلو له امله ټول مصیبتونه په انسانانو کې په بېلابېلو عمرونو کې لرې کړي .

هندي پوهانو دلمر له وړانګو څخه دګټې اخیستنې یوه نوې وسیله اختراع کړېده

هندي پوهانو یوه داسې وسیله اختراع کړېده چې دلمر نور په بشپړه توګه په بوټو باندې ځلوي او دمحصول د ودې دچټکتیا د زیاتوالي سبب کیږي .

دغه وسیله چې دبوټو په کرکیلې باندې دمرکز دوړانګو په وخت دلمریز روښنایي اچوونکي په نامه یادیږي دګجرات په ایالت کې د بهان ګر د سیمې دمالګې د تحقیقاتو او دسمندري شیدو دموسسې پوهانو جوړه کړېده . دغه روښنایي اچوونکي دلمر کې دځینو بوټو دسوځیدو مخه نیسي دغه دستګاه په وقفې سره په ځینو بوټو باندې دلمر دمرکز روښنایي لیږدوي دمخترعو پوهانو دڅرګندونو له مخې دغه آله دمحصولاتو دغه چلند زیاتوي او دبوټو دآفتونو په وړاندې یې مقاومت زیاتوي .

له دغو پوهانو څخه یوه تن مطبوعاتو ته وویل څرنګه چې په هند او په زیاترو نورو تودو سیمو کې هرکال په ملیونونو هکتاره زراعتي او ځنګلي ځمکه په مستقیمه توګه د لمر دځلیدو له امله اور اخلي او خاوندان یې دهغو د له منځه تللو له پلوه په ملیاردونو ډالره زیانمن کیږي نو دوي په دې اختراع لاس پورې کړ چې له یوې خوا دځینو زراعتي محصولاتو حاصلات زیات کړي او له بله پلوه د زراعتي حاصلاتو او ساحو د سوځیدو مخه ونیسي .

څیړونکو داسې باکتریا کشف کړې چې په څرګند ډول دلیدو وړده

انګلیسي پوهانو داسې باکتریا کشف کړې چې په سترګو لیدل کیږي .

دغه باکتریا ستره او بې زیانه ده . او دمرغلرو د اصیل په شان په یوه کړې کې ترل شوې او څرګندوالي او ځلا لري .

دبي بي سي علمي خبریال لیکي په یوه انګلیسي تحقیقاتي موسسه کې چې سمندري مایکرو بیولوژیکي څیړنې ترسره کوي دموسسې یو علمي غړي وایي کله چې دې په یوې تحقیقاتي بېړۍ باندې سپور ؤ

دنامیبیا له ساحلي اوبو څخه دتېریدو په وخت کې یې دغه باکتریا په سترګو لیدلې ده چې دغټوالي له پلوه له عادي باکتریاوو سره ددغې باکتریا توپیر داسې دی لکه دیوه ستر نهنګ او دیوه کوچني موږک دسټروالي په شان . دغه انګلیسي څیړونکي وایي چې دغه باکتریا دیوملي متر د دریمې برخې په اندازه جسامت لري او له مکروسکوب او ذره بین څخه له استفادې پرته په سترګولیدل کیږي چې دمرغلرو د دانې په شان سپین رنګ او ځلا لري .

د دغې باکتریا په سلو کې ۹۷ چې له مایع څخه جوړه شوېده او د اوکسیجن او نایتروجن مرکبات پکې لیدل کیږي . باکتریا هغه دسمندر له اوبو څخه پورته کوي .

باکتریا دسمندر په اوبو کې ژوند کوي او څرنګه چې په مستقیمه توګه اوکسیجن ورته نه رسیږي دغه ګاز دنایتروجن په بدل کې ترلاسه کوي .د باکتریا جسامت اوغټوالي لکه څرنګه چې محقق هایدي سولتز وایي د دې څرګندوي دي چې یوه زیاته اندازه دنایتروجن سلفاید پکې ذخیره شوېدي . چې د زیاتي مودې لپاره له هغو څخه په استفادې سره خپل ژوند پرمخ بیایي سره له دې چې دغه باکتریا غټه ده خو ساري ناروغي نه لیږدوي .

دغه ډول باکتریا په نامیبیا کې ډېره زیاته ده او دخپل ژوندانه په چاپیریال کې دسلفاید او اوکساید په جوړولو کې ستر رول لري .

په ورځ کې دیوې مڼې خوړل تاسې ډاکټرته له ورتګ څخه منع کوي

دکلیفورنیا پوهنتون څیړونکو داسې نښې نښانې ترلاسه کړېدي چې دغه لرغوني متل تایید وي چې په ورځ کې دیوې مڼې خوړل تاسې ډاکټر ته له ورتګ څخه منع کوي .

د کلیفورنیا پوهنتون د دیوسیتي په طبي مرکز کې یو ترسره شوي تحقیق ښیي چې مڼه په سلو کې سل دساره کلسټرول له جانبي عوارضو سره په مقابله کې اغېزمنه ده . او په بالقوه ډول بدن د زړه او اعصابو دسختو ناروغیو په وړاندې محافظه کوي .مڼکې له دې هم دچای او انګورو د اوبو په باب ورته ادعاګانې شوې وې .د دغه پوهنتون یو څیړونکي وایي دمڼو اوبه کېدای شي دهغو کسانو لپاره یو سالم درمل وي چې له غوړو غوښو څخه استفاده کوي . او په بدن کې دهغو مواد و مخه نیسي چې د زړه او دسرطان د ناروغیو د اړوندو زیانونو او سلولونو د زړښت سبب کیږي امریکایي ډاکټران وایي مڼه دزړه او د اعصابو تقویه کوونکې ده او دروحي او رواني خواک او دهاضمې جهاز هم پیاوړی کوي .

مڼه تیزښت لري کوي په دې شرط چې مڼه پخه او خوږه وي خو خامه مڼه دانسان د دماغي څواک دکمزورتیا سبب کیږي او حافظې ته نقصان رسوي . د ترږو مڼو اوبه دهغو کسانو لپاره چې تنده لري ګټوري دي او ترږي مڼې دصفراوي اسهالاتو لپاره توصیه کوي څرنګه چې مڼې دنورو میوو په پرتله زیات ویټامینونه لري له دې امله هضم او جذب یې له نورو میوو څخه اسانه دي په دې شرط چې مڼې له پوستکي سره وخوړل شي . مڼې له دې پلوه چې زیات ویټامینونه لري ویښه تولیدوي او ماغزه پیاوړي کوي په ترکیب کې یې وسپنه ، ایوډین او فاسفورس شته چې وسپنه یې د وینو لپاره فاسفور یې د زړه لپاره او ایوډین یې دچاغور دناروغۍ د له منځه وړلو لپاره ګټور دي . لنډه دا چې مڼې د ژوندانه د اوبو سرچینه او دمیوو باچا بولي چې د ادرار مجرا ضد عفوني کوي کولمې او سینه پرانیزي او د پښتورګو ډبره له منځه وړي .

کمیسیون مطالعات نفوس ملل متحد افزایش سرسام آور نفوس جهان را تا پنجاسال دیگر پیشبیني نموده است

کمیسیون مطالعات نفوس ملل متحد میگوید تا پنجاه سال دیگر برنفوس جهان در حدود سه هزار ملیون نفر دیگر علاوه خواهد شد و این افزایش بطور متناسب درتمام قسمت هاي جهان رخ نخواهد داد . به تخمین این کمیسیون قسمت اعظم افزایش در نفوس کشور هاي رویه انکشاف بعمل خواهد آمد . کمیسیون نفوس ملل متحد علاوه میکند که تعداد سالمندان در نفوس جهان هم رویه افزایش است تعداد اشخاص مسنتر از شصت وپنج ساله که اکنون هفت فیصد نفوس جهان را تشکیل میدهد تا سال دو هزار و پنجاه به شانزده فیصد نفوس جهان خواهد رسید که بیش از دو چند تعداد امروزي است . جوزف چن رئیس شعبه نفوس در ملل متحد میگوید در کمتر از پنجاه سال دیگر نود فیصد نفوس دنیا در کشور هاي رویه انکشاف متوطن خواهند بود وهند ازنگاه نفوس در رأس قرار خواهد گرفت .بزرگترین افزایش در نفوس کشور هاي از قبیل هند ، چین ، پاکستان ، نایجیریا ، و اندونیزیا رخ خواهد داد اما هند از نگاه تعداد نفوس از دیگران به فرسخ ها پیش خواهد بود افزایش نفوس هند دریکسال برابر با افزایش نفوس کشورهاي چین، پاکستان ، ونایجیریا در یکسال است . کمیسیون مطالعات نفوس ملل متحد میگوید انتظار میرود نفوس ایالات متحده امریکا در پنجاه سال آینده چهل درصد افزایش یابد اما احتمالاً نفوس یک تعداد زیاد کشور هاي افریقایي کاهش یابد ودر نتیجه در آنکشور ها کمبود شدید قواي کار احساس گردد . کمیسیون مطالعات نفوس ارتباط بین نفوس محیط زیست و انکشاف رابررسي وتدقیق میکند . یک موضوع که کار کمیسیون را مشکل میسازد اختلاف نظر بین کشور ها در مورد ارتباط بین تعداد نفوس وسلامتي محیط زیست است بعضي ها به این نظر اند که افزایش نفوس خواهي نخواهي باعث فشار بر محیط زیست میگردد در حالیکه بعضي ها میگویند عامل مشکلات محیط زیست وفشار برمنابع زیاده روي در مصرف است زیرا اگر منابع بیحد وحصر به مصرف میرسد حتي اگر نفوس یک کشور زیاد نباشد محیط زیست تحت فشار مي آید محیط به معني وسیعتر آن نه فقط محیط یک کشور خاص بلکه محیط سراسر جهان است .

یون لیک　　طبیب محمد نذیر « احمدزي »　　۷

لوړې او ژورې

د امنیتي کسانو هغه ډاډ ته چې په سیمه کې د بشپړ امنیت او پر خپلو خلکو د پوره اعتماد درلودلو په هکله یې درلوده خوشاله شوم خو ددوی دې بې پروایي ته چې وسلې یې ځړولې او دنا پېژندل شویو کسانو منګولو ته یې برابرې وې خو دوی دهیڅ خطر او ګواښ احساس نه کاوه یو څه خپه شوم ځکه چې په دغه تیاره ماښام او لوړې شاړې سیمې کې له خپلو وسلو څخه لرې والی او د پردیو او ناپېژندل شویو مسافرو ډله دا خطر هم له ځانه سره لري چې خدای مکړه کومه ورځ کومه له خدایه نه وېرېدونکې ډله پرې ورسمه شي او هرڅه تربنه لوټ کړي زما په نظر خو بوڅه تیارسئ ته اړتیا ده ځکه چې دښمنان موږ ډېر او له دا شان بې پروایي څخه موګټه ترلاسه کوي اما هغوی په خپله سیمه کې له پوره امنیت څخه ډاډمن ؤ . ترلانځه وروسته بیرته روان شوو ښه تیاره ماښام دغزني ښار ته ورسیدو شاوخوا د بریښنا رڼا خوره وه او ځای ځای هټۍ هم پرانیستې وې خو په هوټلونو کې بیروبار ښکارېده موږ مخامخ دغزني دعامي روغتیا ریاست ته چې په ملکي روغتون کې ؤ لاړو.

د ریاست مخې ته مو موټر ودراوه . له یوې خونې دوه طالبان را ووتل زه ورښکته شوم درئیس صاحب پوښتنه مې وکړه هغه کندهار ته کورته تللی ؤ ، دمرستیال د پوښتنې په ځواب کې راته ووېل شول چې هغه کابل ته تللی ما په ټوکه ورته ووېل لکه چې موږ په دې توره شپه کې په سپېره میدان واوښتو خو طالب وروړ راته وخندل او وې ویل چې موږ خو یو کله مې چې له ده څخه دهغه د دندې په هکله وپوښتل هغه ووېل چې زه د رئیس انډیوال یم او دهغه په نشتوالي کې دعامي روغتیا له چارو څارنه کوم ، حکیمي صاحب ووېل چې همدلته شپه کوو خونې ته ننوتو په بخارۍ کې یې ښه پریمانه لرګي اچولي ؤ خونه ښه توده وه دوه دري کسان نورهم ؤ څه لږ ځنډ وروسته ډوډۍ راغله ښه ښوروا یې پخه کړې وه او ښې پریمانه شرومبې هم ورسره وې له یوې خوا دژمي سړه هوا او له بلې خوا سړې شرومبې خو ترځنګ یې توده بخارۍ داخبره جوتوله چې موږ افغانان ځینې داسې عادتونه هم لرو چې ترګټې یې تاوان ډېر وي خو پروایې نه ساتو هغه زموږ عادت دی له یوې خوا مو له سړو څخه ژامې ربږدې او له بلې خوا سړې شرومبې څښو خو خدای شته چې دغوشرومبو ښه خوند درلود تر ډوډۍ وروسته مو دخپل پروګرام په هکله خبرې پیل کړې موږ را پور درلود چې دغزني ښار ځینې درمل پلورنځي په پاکستان کې له ځینو غیر معیاري او غیر قانوني کمپنیو سره لارې لري په ډول ډول نومونو یې کیفیته مواد د درملو په نامه په ډول ډول بوتلونو او پاکټونو کې ځای پرځای کوي او زموږ هیواد ته یې را استوي چې بیا په غزني کې دشاوخوا سیمو په درملتونونو پلورل کیږي ددې کار د دروغ رښتیا دمعلومولو لپاره مو مشوره وکړه حکیمي صاحب څوتنو ته دنده ور وسپارله چې په همدا شپه کې ټول عمده پلورونکي درملتونونه مهر او بند کړي د شپې همدغه کار ترسره شو . سهار ترچای وروسته حکیمي صاحب ووېل چې د غزني له والي صاحب سره به وګورو ترهغه وروسته به خپل کار پیل کړو دعامي روغتیا له ریاست څخه د ولایت دمقام په لور روان شوو څو کاله پخواهم ما دغزني ښار یوڅه لیدلی ؤ هغه مهال یوازې دښار عمومي واټ پوخ ؤ خو اوس د ښار شاوخوا اودمنځ سړکونه او بازارونه هم پاخه شوي ؤ ډېر ښایسته ښایسته مارکیټونه په ښارکې جوړ او بازار ښه له خلکو ډک ؤ دښار د سړکونو دقیر کولو په هکله مې له ملاتاني آخند څخه چې دعامې روغتیا سر پرستي یې کوله او موږ سره ملګری ؤ وپوښتل هغه ووېل چې نوموړې چارې د شهید ملایارمحمد آخند دولایت پرمهال چې دغزني والي ؤ سرته رسیدلې هغه د بیا ودانولو او دښار د ښایسته کولو په هکله ډېره مینه او لیوالتیا درلوده شهید ملایارمحمد آخند ته مې دهغه دخدمتونو په خاطر دمغفرت دعا وکړه او د ولایت مقام ته ورسیدو .

نوربیا

اعلانات

د افغانستان بانك ده قلم مواد مصرفیه مورد ضرورت سال ۱۴۲۲ خویشرا به مبلغ دوصدوبیست وشش ملیون وپنجصدو پنجهزار افغاني با ضیامحمد فرزند فتح محمد قرارداد میتماید .مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات د افغانستان بانك بسپارند وخود شان از تاریخ نشراعلان تاده روزمراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

****

ریاست تصدي سمنت غوري درسال ۱۴۲۲ به روغنیات ضرورت دارد .
میلاتیل نمبر ۶۰ مقدار سه هزار کیلو .- میلاتیل نمر ۵۰ مقدار هشت هزار کیلو.
میلاتیل نمر ۸۰ مقدار یکهزار کیلو .- هایدرولیك مقدار ده هزار کیلو .
گریس عادي مقدار دو هزار کیلو . - میلاتیل ۲۰ در ۵۰ مقدار دوهزار کیلو .
اشخاص وموسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا داشته باشد درخواست هاي خویشرا بریاست عمومي امور انسجام صنایع وزارت معادن وصنایع بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد .

*****

شرکت احمد فرید امان زاده لمند تعداد چهل وپنج قلم قرطاسیه غیر مطبوع مورد ضرورت سال ۱۴۲۲ د افغانستان بانك را به مبلغ شش ملیاردوسي ویك ملیون ویکصد ونودوهشت هزاروهشتصد افغاني قرارداد میتماید .مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات دافغانستان بانك بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایندشرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

****

قیام الدین مالك میني بس پنج شیشه یي رسانیدن پرسونل ریاست مرمر و رخام را از طرف صبح وعصر روزانه مبلغ سه صد هزار افغاني براي مدت یکسال قرارداد میتماید .مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست مرمر ورخام واقع پلچرخي بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذمیگردد .

***

حاجي امان الله «متجمله» سي وسه قلم سامان وپرزه جات روغنیات چوب محروقاتي وسایر مواد ضرورت سال ۱۴۲۲ ریاست مرمر ورخام صرف سه قلم ذیل را میرساند .پل اره الماس ۱۲۰۰ جرمني کمپلیت دو دانه هفتاد هزارو هشتصدوپنجاه گلدار .پل اره الماس ۳۵۰ ملي اتالوي کمپلیت دو دانه بیست وچهارهزار گلدار .
کرند جلادار ایتالوي یکصد دانه مجموعاً بیست وچهار هزار کلدار
مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست مرمر ورخام واقع پل چرخي بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایند .

****

ریاست عمومي رادیو صداي شریعت هشت قلم روغنیات از قبیل :یکصدوچهل وهفت هزار وپنجصد لیتر تیل دیزل . شصت وچهارهزاروته صد لیتر پطرول دوصدوهفتاد لیترتیل خاك ده هزار وسه صدوده لیتر میلاتیل ۲۰در ۵۰ . صد قطي ویکم . سي وشش کیلو گریس . چهاصدوبیست لیتر آب انتي فریز . بیست وچهارگیلن میلاتیل ۲۰ در ۵۰ وچهارگیلن سیاتیل مورد ضرورت سال ۱۴۲۲ خویشرا طور قرار داد تهیه و اکمال میدارد .اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت عمومي (تهیه) رادیو بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایند مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

احمدنوید فرزند عبدالواحد یك باب دکان ملکیت بانك رهني وتعمیراتي واقع سینماپامیر را ماهانه مبلغ یك ملیون وهشتصد هزار افغاني براي مدت یکسال بکرایه میگیرد .مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا به مدیریت تعمیرات بانك رهني وتعمیراتي بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست اوقاف دکاکین کانتینرها وغرفه جات ... مختلف شهر کابل واقع شهر نو را در سال ۱۴۲۲ به کرایه میدهد .اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بریاست اوقاف بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد .نجم الدین فرزند الف الدین وکالتاً یك دربند حویلي ملکیت سید اسمعیل فرزند سیدعبدالرحمن واقع ناحیه پانزدهم را بالاي حاجي خان زمان فرزند جلات خان بفروش میرساند .
اشخاص وموسساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

یك دربند سراي داراي بیست وپنج باب دکاکین واقع چهار راهي ملك اصغر که تحت تامین ریاست عمومي استخبارات میباشد براي مدت یکسال به اجاره داده میشود .
اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد انرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت قراردادهاي ریاست لوژستیك مقابل ولایت کابل بسپارند وخود شان از تاریخ ۳۰-۱-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .موازي یازده جریب زمین زراعتي ملکیت کلوپ بانك ملي افغان واقع ولسوالي پغمان را عبدالغفور فرزند ابو الحسن به مبلغ ده میلون ویکصد هزار افغاني در سال ۱۴۲۲ به اجاره میگیرد مزایده کننده گان درخواست هاي خویش را به مدیریت تعمیرات بانك ملي افغان بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۲/۴ تاده روز مراجعه نمایندتضمین اخذ میگردد .شرکت نگین قندهار وشرکت صفي الله مشتاق ته جا مارکیت خربوزه وتربوز مربوط ناحیه چهارم شاروالي کابل را به مبلغ دوملیاد ودوصد ملیون افغاني در سال ۱۴۲۲ به اجاره میگیرند مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرابریاست ناحیه چارم شاروالي کابل بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۲/۴تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

عبدالناصر یکباب مغازه کلوپ عسکري واقع بلاك ۳ ۱۰ مکروریان را ماهانه مبلغ یك ملیون وپنجصدونود هزار افغاني براي مدتي یك سال به کرایه میگیرد مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست خریداري وزارت دفاع ملي واقع سرك دوم کلوله پشته چهارراهي انصاري بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۲/۴ تاده روز مراجعه نمایند شرایط را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد جواز تجارتي ویاصنفي ملاحظه میگردد.

***

علي خان فرزند جمعه خان یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم را بالاي سید شاه حسین فرزند سید حاجي محمد بفروش میرساند . اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

گل محمد فرزند جان محمد یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه هشتم را بالاي محمد فهیم فرزند محمد انور بفروش میرساند اشخاص وموساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

محمد الله فرزند محمد ایوب وکالتاً یك دربند حویلي ملکیت سید محراب الدین فرزند سید اسلام الدین واقع ناحیه هشتم را بالاي حاجي محمد قاسم فرزند قلندر شاه بفروش میرساند اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

سید عارف فرزند سید میرشاه یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه هشتم را بالاي عزیز فرزند حاجي امیر محمد بفروش میرساند اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعاداشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

په تخارکي . . .

دسولي او امنیت دلاري دجنګیالیو لخوا ونیول شوي دمسول نظامي خبرڅاي له خولي داسلامي اردو دمجاهدینو لخوا ددښمن نیول شوي سنګرونه او پوستي دخاو اوسمنداو په پلکي دي چي داسلامي اردو دوپښو پوځونو دمیراني اوزرورتیا په نتیجه کي ونیول شوي ددغو بریالیو عملیاتو په بهیرکي ددښمن پنځلس پوستي دغفوي له واکمني څخه خلاصي او دمجاهدینو تر واکمني لاندي راغلي . خبرڅاي زیاته کړه احمد شاه مسعود له زیاتي مودي را پدېخوا ددغه بي نتیجو تعرض دترسره کولو په مقصد له روسیي هنداو ایران څخه زیاتي جنګي وسېلي او مهمات ترلاسه کړي او ددغو هیوادونو پوځي ماهران هم په خپل خدمت ګمار چي دافغانستان داسلامي امارت او خلکو پرخلاف د دپراخو اونوڅوعملیاتو عملیاتو دترسره کولو په مقصد په پنجشیر او بدخشان کله له دوستم اوخلیلي دلي دده غونډو پریکړي زمور ددغي ادعا څرګند ثبوت دي

د ستګاه تجزیه . . .

استخراجي گاز وجود دارد که ذخیر مجموعي معدن متذکره به شش ملیارد متر مکعب گاز میرسد طبق یك خبر دیگر محترم معین وزارت معادن وصنایع امروز از چاه نمبر ۱۸ساحه یتیم طاق شبرغان درحالیکه درهربخش از طرف رئیس تصدي افغان گاز برایشان معلومات ارایه میگردیدبدیدن نمود . چاه نمبر هجده گاز چندي قبل توسط کارگران وانجنیران تصدي افغان گاز واستادان پوهنتون بلخ بصورت اساسي ترمیم ومورد استفاده قرار گرفت از چاه متذکره در ۲۴ ساعت یك ملیون ودوصد هزار مترمکعب گاز به طور نورمال استخراج میگردد وذخیره مجموعي آن هشتصد ونه ملیون مترمکعب گاز میباشد افتتاح دستگاه تجزیه میخانیکي سهولت هاي فراواني بخاطر تصفیه گاز فراهم نموده است

روسیه براي . . .

امریکایي قبل این براي عبور از خاک روسیه به دیگر کشورها ضرورت به ویزه روسیه نداشتند . این تصمیم پس ازآن اتخاذ میگردد که ایالات متحده امریکااعطا ویزه براي اتباع روسیه را هنگام عبوراز خاك امریکا به دیگر کشور را جباري اعلام داشت .

د میدان وردګ ...

د «مني کل » ترسرلیک لاندي دمشاعري پراخه او پرتمینه غونډه جوړه شوه ددغي پرتمیني غونډي په بهیرکي پردي برسیره چي بو شمیر تکړه شاعرانو خپل شعرونه واو رول دبو لړمهمو مسالو په باب هم سلامشوري وشوي او لازم تصمیمونه ونیول شول دغه راز وبشپل شوه چي له دي وروسته دي هره میاشت ادبي کره کتني او مشاعري غونډي جوړي شي په دي غونډي کي وبشپل شوه چي دمیدان - وردګ په ولایت کي دي دبوي جریدي ، ادبي ټولني او کتابتون په باب غور وشي دغونډي په وروستي برخه کي هغه جایزي او سوغاتونه چي تکړه شاعرانو ته په پام کي نیول شوي و په دوي یاندي وویشل شول دغه شانداره غونډه دمازدیګر په پنځو بجو دبوي په عابي په لوستلو پاي ته ورسیده

همین حالا . . .

قطار روان اما نامنظمي ازبایسکل هاي چینائي که بالاي آنها همه محصلین د بده میشد یکي به تعقیب دیگر جانب پوهنتون درگش بودند. دیدن این صحنه انسان را به یکبارگي متوجه این امر میساخت که گویا مشکلات ترانسپورتي درین مسیر خیلي دچار محصلین باشد به هرحال امن که خودهم عقب یکي از همین بایسکل ها به اصطلاح «دوپشته» سوار بودم بعداز چند ي خود را داخل صحن پوهنتون یافتم . از دحام محصلین در هرگوشه وکنار بویژه عقب دفتر معاونیت امور محصلان قابل ملاحظه بود . بدون تعلل داخل این دفتر شدم وخواستم حرف هاي را پیرامون کمیت محصلین در پوهنتون با متصدي امور محصلان مطرح سازم .محترم پوهیالي قاري محمد اجمل « احمدزي » متصدي امور محصلان پوهنتون کابل درزمینه چنین اظهار داشت . امروز در سطح ۱۴ پوهنحي پوهنتون کابل بشمول انستیتوت طب حدود ۶۰۰۰ محصل مصروف تحصیلات عالي قرار داشته که از جانب ۳۵۰ تن استاد مجرب وورزیده تدریس میشوند . همچنان لیلیه پوهنتون کابل که از دیر زماني فعال بوده همین حالا ۲۴۵۰ محصل از اعاشه منظم واز نه مناسب این لیلیه درشبانه روز مستفید میباشند . البته از انجا شبکه انرژي برق در پوهنتون قبل مواصلت ورزیده ، اما تا کنون تمامي پوهنحي هاي آن از نور برق مستفید نگردیده است. اینکه چرا پوهنحي هاي شبانه پوهنتون کابل از طي پنج سال بدینسو غیر فعال مي باشد محترم «احمدزي » درزمینه چنین گفت : مشکلات برق وحمل ونقل محصلین و استادان سبب شده تا پوهنحي هاي شبانه پوهنتون کابل دراین دراز مدت به حالت تعلیق قرارداشته باشد . محترم پوهندوي عبدالرسول «سعید » استاد پوهنحي ژورنالیزم پوهنتون کابل از اشکالاتیکه امروز در رابطه به استعداد وسطح سویه محصلین تبارز نموده است چنین یاد دهاني نمود : استعداد وسویه محصلین به مقایسه سالهاي پیشین چندان رضایت بخش نیست ، به این معني که سویه محصلین ازنظر سواد وسطح دانش کمي پاشیتر قرار گرفته .البته علت وانگیزه این امر مستلزم نکات آتي مي باشد که باید به ان توجه نمود : عدم تطبیق مکمل نصاب تعلیمي ودرسي در مدارس ، عدم گرایش وعلاقمندي استادان مدارس نسبت به تدریس دروس براي طالب العلمان ، مواجه بودن مدارس به کمبود استادان مسلکي مصروف بودن استادان مدارس در ایام غیر رسمي در امور ومشاغل شخصي غرض تهیه نفقه فامیل ، کمبود تعمیرات ووسایل درست درسي درمدارس و،کمبود کتابخانه ها چه به سطح مرکزوچه به سطح ولایات ومعیار قرار داشتن امتحان کانکور غرض شمولیت محصلین درپوهنتون به عنوان تکت بخت وطالع نه به عنوان لیاقت واستعداد یگانه چیزیکه نسبت به محصلین قابل عطف وتوجه دیده میشد تشکل گروهي آنان بود که از اقوام و ملیت هاي مختلف اعم از تاجك ، پشتون ، هزاره ، ازبك ،ترکمن ، نورستاني و... در یك کانون علمیوفرهنگي گرده هم آمده بودند. این امر حقیقتاً گواهي این را میداد که با حاکمیت نظام شرعي در کشور دیگر روي دروازه هاي فرهنگي ،اداري و... امارت اسلامي جايي براي میخ تعصب باقي نمانده است .محترم میرویس «ناصري» یکتن از محصلین سال دوم پوهنحي زمین شناسي پوهنتون کابل در حالیکه نسبت به آینده خویش سخت امیدوار دیده میشد میگوید: از آنجا ئیکه امروز ملت در دمند ومجاهد افغان را از یکطرف زنجیر استکبار تعبرات بخود پیچیده واز جانب هم مصیبت بزرگ خشکسالي وقحطي از دراز مدت بدینسو ریشه وبنیاد اقتصادهر خانواده را درین ملك تهدیدمیکند ، این امر خیلي قابل ملاحظه است که باوجود این همه مصایب ومشکلات امروزدروازه علم ودانش برخ همگان ارزان بازبوده ومحصلین میتوانند با اطمینان کامل به آینده خویش امیدوار باشند .

مهربان

دملګرو ملتو...

یوري صرف څلوبښت ملیونه دالره راټول شو بدي دیو بل خبر له مخي دملګرو ملتو دمهاجرو دچارو عالي کمیشنرروډ لو برز چي پخوا دهالیند صدراعظم و پهژاتلونکي اووني کي افغانستان ته راروان دي چي دمهاجرو حالت په خپلو سترګو وګوري

اشغالگران ...

داده واشغالگران صهیونیست را به افزایش حملات برمردم فلسطین متهم نمود اداره مذکور طي بیانیه اعلام داشت که رژیم صهیونست سیاست اشغالگرانه وتوسعه طلبانه خودرا تغییرنداده بلکه عملیات نظامي اش را افزایش داده است

دنړۍ لومړني ...

دځنډېدو له کبله داکار یو څه وځنډېږي تاکل شوي د امریکایي بیري انډیور پرون له بین المللي ستېشن څخه بېله شي مګر دغې په کمپیوټر ونوکي یو څه جنجال پیدا شو دامریکا دخارجي فضا اداره ناسا وایي هیله لري چي دغه کمپیوټر ونه په کم وخت کي جوړاو فضا یي ستېشن څخه به رابېل شي

رقم بیجا شده گان ...

مشکلات این بیجاشدگان برداشته مي افزاید : فاجعه ترازید خشکسالي طي بیشتر از یکسال درکشور توانست پیکر بنیادي مردم زراعت پیشه مارا که عبارت از اقتصاد زراعتي درملك بود صدمه، کلي بزند . اینکه امروز خشکسالي حیات یکصد هزار انسان بیجاشده را در داخل کشور تهدید میکند جامعه بین المللي نباید بیشتر از این در زمینه سکوت اختیار نماید . این امر یك مصیبت بزرگ بشري است وافغانهاي دردمند سزاوار این نیست که در چنین حالتي از همدردي دیگران فراموش گردند .
آخرین امار بدست آمده از تعداد این بیجاشدگان را محترم وزیر شهدا ومهاجرین چنین واانمود ساخت : آخرین امار و احصائیه ها در قبال بیجاشدگان نشان میدهد که هم اکنون بشمول دوهزار خانواده مهاجر از مناطق شمال کابل که فعلاً در ساحه سفارت شوروي وقت جا بجا گردیده اند ده هزار از خانواده دیگر درکمپهاي شهدایي ، روضه باغ ، مسلخ ، روشان ، ستاره شهر ، ستاره اول ودوم در شهر هرات ؛ دوهزار وششصد خانواده در کمپ هاي باغ شمال ، بالادوري ، تعمیرمخابرات وباغ شمرق در ولایت بغلان وسه هزار ویکصد خانواده بیجاشده در باغ شرکت ، دروازه کن علي آباد ، کمپ امیرآباد وخان آباد ولایت کندز بسر میبرند ؛ البته این در حالیست که با گذشت هر روز برتعداد بیجاشدگان درین کمپ ها اضافه میگردد وبهمرفته همین خشکسالي است که قحطي را بوجود مي آورد وبالاخره انسان تسلیم مجبوریت میشود .
بلي ؛ انسان مجبور در دوران مجبوریت عزیز ترین داشته هاي زندگي اش را از دست داده وبه

تبصره

دخبري سرچینو په حواله ویل شوي تېره اونۍ ایران دهغه دوه ورځني کنفرانس کوربه و چي دفلسطین کشالي دبحث ، څېړنې او فلسطیني ولس دملاتړ په خاطر هلته جوړشوي و په غونډه کې د لبنان دحزب الله نه علاوه دفلسطین دحماس ، الجهاد او «فتح» ګډونو اودېرو اسلامي هیوادنو یوشمیر استازو ګډون وکړو او په دې توګه ایراني چارواکو د دغې مسألې د ژوندي ساتلو ، صهیونیستي غاصب رژیم ته یوڅه زور وربښکارولو او بالآخره په اسلامي نړۍ کې دڅه نوم نښان ګټلو هڅه وکړه . خو په هر صورت ایران پوه شه اونیت مراد یې ، زمونږ په وړاندې مهمه خبره داده چي په هرډول ممکنه وي دفلسطیني داعیې ملاتړ او داسلامي امت یو والی څرګند شي . مګر زیاته خواشینونکې خبره داده چې ولې هغه عربي نړۍ چې د اسلامي امت تر ټولو درو ند اولوی اندې تشکیلوي ، په دغه موضوع کې اغیزناک او قاطع کردارنه شي ترسره کولای ؟ او په داسې حال کې چې هر ډول مادي وسایل په لاس لري بیا هم دیهودو په وړاندې یو غوڅ دریغ خو پرېږده چې دا ډول یوه غونډه هم نه شي جوړولای ! یقیناً دا ډېره دتعجب خبره ده او سړی نه پوهېږي چې دا دومره ډار او بې همتي دوی ته له کومې خوا ورپېښه ده چې حتی په زوره خبره هم نه شي کولای او که چیرې کوم وخت سره را ټول شي نو بیا هم ډېر په احتیاط او کمزورو ټکو پریکړه صادروي چې هیڅ عملي اړخ هم نه لري . په ایران کې جوړشوي «فلسطین کنفرانس» په واضحو ټکو عربي نړۍ ته دا پیغام لري چې که دقدسي حرم او نورو سپیڅلو ځایونو په ساتنه کې له څه ګواښ او وېرې سره مخامخ وي نو په کار ده چې نورو مسلمانانو ته غږ وکړي او دمسلمانو پرګنو په خواک حساب وکړي ، نه داچې بیرته هماغو کفارو ته د سوال لمن نیسي او دخپل ځان او اسلامي مقدساتو ساتنه اوژغورنه تري غواړي . نو په دې توګه عربي نړۍ که ریښتیا هم څه اسلامي او ملي جذبات او احساسات لري دا کنفرانس دهغوی لپاره ځکه یو پیغور دی چي څرنګه دا تقریباً شل عربي هیوادونه په دغسې یو لویه او مهمه موضوع کې دسستي او اختلاف ښکارشوي او دادي صهیونیستي رژیم لګیا دی شاوخوا ټولو عربي هیوادو ته سر وراچوي خو دوی یې په مقابل کې په سختو او ترخو الفاظو غندنه هم نه شي کولای . **دعربي هیوادونو دغه بیچاره او ویرجن حالت ریښتیا هم په ټوله اسلامي نړۍ ډېرې بدې اغیزې ښندي ځکه عربي نړۍ د اسلام دزړه او مرکز حیثیت لري نو کله چي هغوی دومره کمزوري اوبې زړه شي** نور مسلمانان به خامخا اغیزمن کیږي . د افغانستان مسلمان اومجاهد ملت چي له پیړیو پیړیو راهیسې یې داسلام او لوی خدای «ج» د رضا په لارکې سر ښندنې کړي د فلسطین په روانو حالاتو **خپله ژوره خواشیني او دغاصب رژیم په وړاندې سخته کرکه او غوسه څرګندوي . خو داچي اوس مونږ په خپله دکفري یرغلونو هدف ګرځیدلي یو ، لاس موتش ، جیب مو خالي او لار مو لري ده نو نه یوازې د فلسطین دقضیې کنفرانسونو او یادښت ننګه اوملاتړ کوو داهم په ډاګه وایو چي د افغانستان اسلامي امارت ته دوخت په** راتلوسره خامخا دفلسطین د داعیې څه پوښتنه وکړي .

توجه

درنو ګډون کوونکو!
که شریعت اوونېزه نه در رسیږي او یا ناوخته دررسیږي نو په (۶۲۸۵۹) او (۶۲۸۶۷) شمیرو تیلفوني تماس ونیسئ.
اداره

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**

Editor: Ghulam M. Farooq

Printed by: Emirate's Printing Press